محمد اياز نوري آزادي ۲۰۱۷/۱۲/۲۶

پاچا لور ناجيه د افغانستان په افغان ترک غونډه کښې

دا تاريخي او هر وطن پال افغان ته ډېر خواشينوونکی عکس، پاچا لور ناجيه (د افغانستان)، ماته راولېږه. د پاچا لور د توضيح سره سم دا اعليحضرت مرحوم غازي امير امان الله خان پس له سقوط څخه او مشره لور ئي آمنه جانه په جلا وطنۍ کښې متولده د ۱۹۱۶ز کال په شاهي ارګ کښې کابل ـ افغانستان، موقعيت د سويس او جرمني سرحد د اورګادي تمځای
لاکن د نن د عزت په حواله غازي امان الله خان مړ نه دئ، هغه عظيم انسان ژوندی دئ، مړه سقاويان او نادريان دي.

پرون د اعليحضرت غازي امير امان الله خان رحمت الله عليه درنې لور ناجيه جاني (د افغانستان)، پخپله اماني تواضع د ترکيې هېواد څخه ماته فون وکړ، معمولاً زه جنابي ته فون کوم او احوال ئي اخلم. پاچا لور په يوه خاصه افغاني مينه او خلوص او په يو ښکلي طريق د خپلې روغتيا په باب او کورني يادونه وکړه او په جاري خپل حال ئي خپله شکرانه لوی څښتن ته اداء کړله. زما د پوښتنې په ځواب کښې د خپلې يواځنې ژوندی خور اغلې اندیا (د افغانستان) په هکله

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ئي وويل، اندیا اوس هم هېواد افغانستان کښې ده، د کابل په نوي ښار کښې د يوه وطنپال افغان په کور کښې په ارزان مصرف نسبت هوټل ته اوسېږي او وائي، همدلته د خپلو افغانانو سره خوشاله يم. په دوام پاڅا لور وويل، زه تاته د خپل ځان په هکله يو فرهنګي خبر لرم. د روان کال د نومبر ۲۶ څخه تر ۲۸نېټې پورې د ترکيې هېواد د انالودو (Analodu) د پوهنتون د رياست څخه مې يو بلنليک تر لاسه کړ، چې په هغه کنفرانس کښې چې موضوع ئې «مناسبات افغانستان و ترکیه از قدیم تا حالا، استقلال مطلق و اصلاحات شاه امان الله خان، سفر رسمی، دوستی و مناسبات شاه امان الله و اتاترک، عصیانها و ترک وطن، وفات شاه امان الله خان» وه، د اعليحضرت غازي امان الله خان د لور په حيث ګډون ولرم او د مشروطيت د غورځنګ، په ۱۹۱۹ز کال کښې د افغانستان د استقلال په باب او د افغانستان لپاره د امانې لس کلن پراو په هکله حاضرينو ته خپل شته معلومات وړاندې کړم. ما د خپل د ماما د زوی د علامه محمود (طرزي) د فرهنګي مرکز د رئيس شاغلي محمد عمر خان طرزي په مرسته مې لازم معلومات تيار کړل. په نومورې نېټه مو په غونډه کښې ګډون وکړ. غونډې ته ګڼ شمېر ترک او افغان عالمان، ليکوالان، د تاريخ محققين او محصلين او همداء راز کافي شمېر په ترکيه کښې حاضر افغاني محصلين راغلي ول. زما وينا ۴۵ دقيقې دوام وکړ. ما ليدل، چې حضارو پس له دې، چې زه مسئول کس معرفي کړم، او وينا مې پيل کړله، په خورا دقت او علاقې غوږ نيولای وه. ما د افغانستان د استقلال د حصول او د خپل مرحوم پلار امير امان الله خان لس کلن اجراعات او کارنامې د هېواد د ترقي لپاره په واضحه الفاظو تشريح کړل، خو کله، چې هغه پراو ته راورسېدم، چې هغه مستقل او د ملت غمخور دولت د سقاوي حبيب الله خان له خواء د سقوط سره مخامخ شو، ما وليدل، چې حضار ټول ډېر خواشيني شول، چې زما هم د افسوس سبب شول. بيا د پوښتنو او ځوابونو وخت راغی. ترکي او افغاني ګډون والو هر راز پوښتنې کولې او ما خپل ځوابونه او معلومات ورکول. يو افغان محصل وپوښتل: «ستاسو نيکه امير عبدالرحمن خان ولی د هزاره قام سره ظلم کاوه؟ ما ورته وويل، د مجلس نه پس ماته راشه، زه به په تفصيل درسره خبرې وکړم». په دوام حضارو، خصوصاً افغاني شخصيتونو او افغان محصلينو هر يو تن غوښتنه کوله، ما سره د غازي امان الله خان د لور په حيث عکسونه واخلي. ما ورته وويل، زه خو اوس جسماً تکړه نه يم، راځی په ټول کښې يو يا څو عکسونه درسره واخلم، خو هغوی نه منله. هر تن غوښتل جلا جلا ورسره عکس واخلم او ما بله چاره نه لرله. خير، ډېره خوشاله شوم، چې اوس هم خصوصاً د افغانستان ځوان نسل زما د پلار اصلي شخصيت ته متوجه شوي دي او ربښتنی درنښت ورته کوي او هغه وطن دوست انسان ستائي او خصوصاً د افغانستان لپاره کارونه ئې لکه يو سر مشق ځانته ټاکي.

په لاندې انځورونو کښې درانه امانې پاڅا لور په سره رنګ جاکټ کښې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ